مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۶/۰۶

# پور اخیستي خندا

یا خو قسمت یا پـېښنو

یا خو هم پوهي نا پوهی

تر دغه ځای رارسولی یمه

زړه مي د ویـر ځاله ده

او د ککرې دا ګومبزه چې ده

دا د غمونو ګودام

شونډې مي وچې

د زړه جیب مي له خوښیـو تش دی

تا پسې غږ او تا نه هیله کوم:

د خندا دوې سکې په پـور خو راکړه

دا مي وعده ده چې دې پـور بیـرته دروګرزوم

۲۰۱۷/۰۵/۲۰
انتالیا
ترکیه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ